بسم الله الرحمن الرحيم

## د ربښتينې رهبرۍ تړون چې الله سبحانه وتعالی یې د بیا واکمنېدو ژمنه کړې

هغه سپڅلی ذات چې انسان یې پیدا او فنا کړ، د هغه بدن ته یې روح دننه کړه او هغه ته یې عقل ورکړ. هغه سپڅلی ذات چې خپل پیغمبر یې راولېږه چې انسانان له تیارو څخه روښنایۍ ته راوباسي. هغه سپڅلی ذات چې خپل کتاب (قرانکریم) یې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل کړ، څو هغه څراغ شي چې د ټولو خلکو لاره روښانه کړي. هغه سپڅلی ذات چې فرمایلي یي دي:

**﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ * مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ﴾**
[الذرات: ٥٦-٥٧]

ژباړه: *انسانان او پېریان مې د عبادت لپاره پیدا کړي. هېڅ وخت له هغوی روزي نه غواړم چې ما موړ کړي.*

هغه سپڅلی ذات چې فرمایي:

**﴿قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾** [انعام: ١٦٢-١٦٣]

**ژباړه:** *ووایه! لمونځ او زما ټول عبادات، زما ژوند او مرګ، ټول د نړۍ د الله سبحانه وتعالی لپاره دي.*

الله سبحانه وتعالی خپل بنده ګان پیدا کړي او د هغوی ژمنه یې اخیستې چې دوی به دا مني چې الله سبحانه وتعالی مالک دی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ﴾**

ژباړه: *په يادراوړئ! کله چې الله سبحانه وتعالی د ادم له شاه څخه د هغه نسل پيدا کړ او هغوی يې د خپل پيداينښت پر څرنګوالي خبر کړل او يې فرمايل: «ايا زه ستاسو پروردګار نه يم؟» ويې ويل: «هو، شاهدي ورکوو!» په عقل او ژبه داسې اعتراف د دې لپاره دی چې د قيامت په ورځ ونه وايي چې موږ پر دې څه بې خبره وو.*

الله سبحانه وتعالی موږ ته قانون راولېږه چې په ځمکه کې اوسېدونکي کسان ښه ژوند وکړي، دا ضمانت يې وکړ چې د قوانينو پلي کېدل درواغ نه شي کېدای چې د دوی په منځ کې له الله سبحانه وتعالی څخه د ډالربېدونکي رهبر په واسطه پلي شي. الله سبحانه وتعالی د خپل پيغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم امت وټاکه چې په نړۍ کې به د نورو لپاره غوره امت وي، څو امر به معروف او له منکر څخه منع وکړي. همدارنګه اومت هغه لور ته دعوت کړي چې د الله سبحانه وتعالی خوښه وي.

**﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**[عمران: ۱۱۰]

**ژباړه:** *تاسو تر ټولو غوره اومت ياست چې د انسانانو د ګټې لپاره پيدا شوي ياست، امر په معروف او له منکر څخه منع کوئ او پر الله سبحانه وتعالی ايمان لرئ. که اهل کتاب پر داسې دين ايمان راوړي، د هغوی لپاره غوره ده. خو د هغوی ډېر کم شمېر ايمان لري او ډېری يې فاسقان دي. (يعنې د الله سبحانه وتعالی له اطاعت څخه بهر)*

الله سبحانه وتعالی رهبريت د ژوند اړتيا کړه، چې په دې سره د مخلوق چارې حرکت وکړي. د مرغانو ډله يو رهبر لري چې هغوی رهبري کوي، همدارنګه څاروي هم يو داسې تن ته اړتيا لري چې دوی رهبري کړي، لکه مېږيان او مچۍ. دوی لکه انسانان داسې مخلوق دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ [انعام: ۳۸]

**ژباړه:** *په ځمکه کې هېڅ داسې مخلوق او هېڅ داسې مرغه نشته چې په دوو وزرو الوزي، خو دا ټول ستاسو خوندې مخلوق دی. په دغه کتاب (قرانکريم) کې ټول څيزونه ځای پر ځای شوي او هېڅ نه دي پاتې شوي. ټول د الله سبحانه وتعالی لور ته ورګرځي.*

رهبري هغه واک او قدرت دی چې ژوند رهبري کوي او د ادارې او رهبري کولو لپاره تر ټولو اړينه مسله ده. الله سبحانه وتعالی په اسلام کې د امت د امير، رهبر يا امام پيروي واجبه کړې چې د الله سبحانه وتعالی احکام پلي کړي او الله سبحانه وتعالی پر امت واجبه کړې چې تر هغه د هغه اطاعت وکړي او نا فرماني يې نه وي کړې. که يې د الله سبحانه وتعالی له احکام پلي کېدو سرغړونه وکړه، هغه وخت بيا د اطاعت وړ نه دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم په اسلام کې د امت لومړنی رهبر و او د بشريت لپاره تر ټولو غوره شخصيت. رسول الله صلی اله عليه وسلم يو پيغام، باور او يو قوي امت پرېښود، چا چې امت رهبري کړ او هغوی ته يې د الله سبحانه وتعالی لارښود او رڼا پرېښوده. تر رسول الله صلی الله عليه وسلم مخکې بشريت د داسې رهبر شاهد نه و. رسول الله صلی الله عليه وسلم په قبيلو او قومونو کې له کوم رنګ په پام کې نيولو پرته خلک د الله سبحانه وتعالی تر بيرغ لاندې سره راټول کړل. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم د امت تر منځ پولې ونړولې او زړونه يې له يوځای کړل.

الله سبحانه وتعالی ته عبادت کول دا مانا ورکوي چې په ځمکه کې نسل پراخه او د الله سبحانه وتعالی حکمت خور شي. دا هغه باور او دروند بار دی چې اسمان، ځمکه او غرونه يې د وړلو وس نه لري، خو پر انسان دا بار ور وتپل شو. رسولانو او پيغمبرانو دا باور تر لاسه کړ او د الله سبحانه وتعالی رسول صلی الله عليه وسلم وروستی پيغمبر و چې دغه درند بار پر اوږو واخلي او خپل امت ته يې راولېږدوي. همدارنګه اومت يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر تګلاره دوام ورکړي.

دا د رښتيني، صادق او ايمان لرونکي رهبر ترون و، چې له مهربانۍ پرته بل څه نه لري او په خلکو يې کې قانون خپور کړ. دا ژوند له الله سبحانه وتعالی سره د مينې درلودو په مانا دی او الله سبحانه وتعالی پر خپلو بنده ګانو مهربانه دی.

**﴿فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى اللَّهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ * وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ * لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ذَلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ﴾** [الزمر: ۳۲-۳۴]

**ژباړه:** *نو تر هغه کس بل څوک ظالم دی چې پر الله سبحانه وتعالی پورې دروغ وتړي او رښتيا خبره چې هغه ته راغلې، درواغ وګڼي؟! ايا په جهنم کې د کافرانو لپاره ځای نشته؟! خو که څوک رښتيا خبره راوړي او بل کس يې تاييد او تصديق کړي، هغوی پرهيزګاران دي. هر هغه څه چې ويې غواړي، د الله سبحانه وتعالی له لوري د دوی لپاره شته دي او دا د نېکو کړنو ترسره کوونکو جزا ده.*

د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر تګلاره د هغه اصحابو رضی الله عنهم هم قدم کېښود او دوی هغې لارې ته دوام ورکړ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته پرېښوده. همدارنګه هغې لارې ته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته د دين د ساتنې لپاره ور وښوده. هغوی د تر لاسه کړو زده کړو د خورولو لپاره کار کاوه، د امت چارې يې تنظيمولې او په دغو چارو کې يې عدالت او امنيت ته هم پام کاوه. هغوی هڅه کوله چې د ټولو هغو کسانو لپاره اړتياوې پوره کړي چې له اسلامي دولت سره يې اړيکې او پيوستون درلود. همدارنګه اصحابه وو د الله سبحانه وتعالی د رضا او اخرت لپاره ټول هغه څه مصرف کړل چې درلودل يې.

دوی پر بندګانو د الله سبحانه وتعالی د احکامو پلي کېدو او پرمختګ لپاره کار کاوه، د الله سبحانه وتعالی له غوسې او قهر څخه وېرېدل. دوی د خلکو د اړتياوو پوره کېدو په ځانګړې ډول د مشرانو او هغو کسانو لپاره چې سرپرست يې نه درلود، خدمت کاوه.

د بېلګې په توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د یوې زړې او په سترګو ړندې مېرمنې خدمت چې بیا وروسته یې هم د هغې پالنې ته دوام ورکړ. عمر ابن خطاب هم د پالنې او روزنې په برخه کې ښه مثال دی.

کارځای ته په نوبت راتلل او هر یو څنګه چې د الله سبحانه وتعالی خوښه وه، په ښه ډول یې ترسره کول. حتا له مرغانو سره به د دوی غم و چې وږي پاتې نه شي او څارویو ته یې هم پام کاوه چې ونه خوښیږي. له الله سبحانه وتعالی څخه وربېدل.
هغه امانت چې د مسلمانانو خلفا هر یوه یې په تقوا او له الله سبحانه وتعالی څخه په ډار سره وساته.
هغوی کوښښ وکړ چې دغه دین وساتي، دفاع ترې وکړي او ټولې نړۍ ته یې ورسوي، څو په دې سره د الله سبحانه وتعالی کلام او حکومت یوازې د یوه الله سبحانه وتعالی شي.
د امت یوې ډلې چې له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې خیانت وکړ، پر دې وتوانېدل چې خلافت دولت نسکور کړي.
سیاسي بنسټ د دین ساتونکی دی او د الله سبحانه وتعالی د احکامو پلی کوونکی دی. هغوی د خپلو ګټو پر اساس هېوادونه سره ووېشل او د امت مال یې لوټ کړ، همدارنګه پردیو ته یې د دې څه تضمین ور کړ.
واک داسې کسانو ته ولېږدول شو چې وړ یې نه وو او دغه کسان باید د قیامت ورځې په تمه شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ»** قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «**إِذَا أُسْنِدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ**» **بوخاري**

**ژباړه:** *کله چې امانت له لاسه ووت، د یو ساعت لپاره په تمه شئ! پوښتنه وشوه، کله به امانت له لاسه ووځي، اې د الله سبحانه وتعالی رسوله! هغه وفرمایل: کله چې واکمني د داسې چا لاسته ورشي چې هغه یې وړ نه وي. نور وروسته د یو ساعت لپاره په تمه شئ!*

موضوع هغه چاته ور ګرځي څوک چې د خلکو د چارو سرپرستي نه شي کولی او د هغوی د ګټو لپاره نه شي درېدلی. دوی پر خلکو درنې مالیې لګوي او دوی خلک له هغو شتمنیو بې برخې کوي چې الله سبحانه وتعالی یې څښتن کړي دي. موضوع هغه چاته ورګرځي، څوک چې هېواد پلوري او بې عدالتي او فساد په خلکو کې خوروي.

نو هغه کسان چېرته دي چې د خلکو چارې یې پر غاړه واخیستې او د انساني نظام پر اساس یې پر هغوی حکومت وکړ. همدارنګه هغه کسان وځپي چې د کمو خلکو ګټې خوندي کوي او ډېری نور ترې بې برخې وي. لکه په نړۍ کې چې جګړې روانې دي، لوږه ده، پر ماشومانو جنسي تېري کېږي، څو دغه واکمنان د دغو بدبختیو مخه ونیسي.
هغه کسان چې په داسې نظام سره حکومت کوي چې د خلکو د چارو په ترسره کولو کې بې وسه دي او انساني اړتیاوې نه شي پوره کولی. زرګونه ماشومان چې له لوږې څخه خپل ژوند له لاسه ورکوي. دا د اوسنیو ظالمو واکمنانانو له لاسه دي چې د امت د چارو په ترسره کولو کې بې وسه دي. کوم ماشومان چې د امن شتمني ده او باید له ښه ژوند څخه برخمن شي، ځکه چې دا یې حق دی.
د هغو کسانو تر منځ چې اوس واکمنان دي او هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی قانون ته یې غاړه ایښې ده، پر ځوانانو رحم کوي، ډېر توپیر دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا»**

**ژباړه:** *هغه څوک له موږ څخه نه دی چې پر ځوانانو رحم نه کوي او مشرانو ته درناوی نه لري.*

دلته د هغو کسانو تر منځ چې د یتیمانو لاسنیوی کوي او د هغوی اړتیاوې پوره کوي، له هغو کسانو سره توپیر لري چې دې څه ته هېڅ پام نه کوي.

اوس چېرته دي د نن ورځې واکمنان کله چې خلک له بېکارۍ او لوږې سره مخ دي؟! چېرته دي د امت هغه ځوانان کوم کسان چې په ځورېدو او پر مخ يې د تړولو دروازو په بندېدو سره خپل ژوند له لاسه ورکوي؟!

چېرته دی زموږ د ځوانانو درد کله چې د غمونو او ځورېدنو په يو طوفان کې کلابند شوي وي؟!
دوی داسې ژوند غواړي چې په هغه کې له منع شوو څخه منع کېدو او پاکۍ ته دعوت کېږي.
چېرته دي هغه کسان چې امانت يې واخيست او د هغه د ساتلو لپاره کوښښ کوي. په ځوانۍ کې له الله سبحانه وتعالی وډار شول او له هغوی سره يې د ودونو په ترسره کېدو کې مرسته وکړه.
هغه کسان چې الله سبحانه وتعالی د احکامو په پلي کېدو سره خوشحاله کوي او له هغوی سره يې مرسته وکړه.

ابوحريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**« ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ؛ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَالْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ**

***ژباړه**: درې کسان دي چې د الله سبحانه وتعالی لپاره نبه دي او بايد مرسته وسره وشي: هغه غلام چې خپل څښتن ترې خوښ وي چې خپله ازادي واخلي، څوک چې د سپڅلو هيلو لپاره واده کوي او هغه څوک کې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد کوي.*

چېرته دي هغه واکمنان کله چې ځوانان د ودونو لپاره پيسې او لګښتونه نه لري، څو په دې برخه کې د يوې کورنۍ ملاتړ وکړي او د واده د لګښتونو په تړاو يې خبرې ورسره وکړي. (يعنې په داسې حالت کې د مرستې کول چې لګښتونه ډېر او ځوانان بېکاره دي.)

چېرته دي هغه واکمنان، کله چې له يوې مېرمنې څخه د ازادۍ په بېلابېلو عنوانونو سره ګټه اخيستل کېږي، ظلم پرې کېږي او هغه حقونه کله چې هغه پر ځنځير تړلې وي او د داسې چا په تمه وي چې نوموړې له درده ډک ژوند څخه ازاده کړي. دا څه د دې لامل شوي چې نوموړې هغه څه له لاسه ورکړي چې الله سبحانه وتعالی د هغې په فطرت کې ځای پر ځای کړي دي.

چېرته دي هغه کسان چې د نړۍ د رهبري کولو او له وچکالۍ، فقر، بېکارۍ او جګړو څخه يې د ژغورلو ادعا کوي؟! له يو ناخوښ ژوند څخه د خلکو سينې تېپي او مړۍ يې خفه شوې دي. هغوی د يو بل داسې سيستم لپاره په تمه دي چې د ټولو خلکو د ژوند د چارو مسوليت پر غاړه واخلي. د شتمن او بېوله، د ځوان او سپين‌ږيري، سړي او ښځې او د يو انسان په توګه د بل انسان ساتونکي شي.

يعنې داسې سيستم چې يوه مېرمن د خپل خلقت او فطرت اړوند ژوند ولر يا چارې مخته يوشي.

**﴿أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾** [عراف:۵۴]

ژباړه: *خلقت او فرمان د الله سبحانه وتعالی دي. الله سبحانه وتعالی د ټولې نړۍ پروردیګار دی.*

چېرته دي هغه رښتيني رهبران، څوک چې پر دې خبر دي چې الله سبحانه وتعالی دغه مسوليت بنده ګانو ته سپارلی چې د الله سبحانه وتعالی د مهربانه بنده رسول الله صلی الله عليه وسلم، اصحابه وو او ټولو هغو کسانو په مرسته راولېږدول شو، څوک چې رښتني وو. هر څوک چې رښتيا ويونکی وي او پر امانت يې وفا کړې وي، ژغورل شوی او هر څوک چې غفلت وکړي، درواغ ووايي، خيانت يې کړی او پېښمانه به شي. هغه ورځ چې پښماني به يې هېڅ ګټه ونه لري.

رښتينې رهبري د الله سبحانه وتعالی بلنه مني او الله سبحانه وتعالی ته صادقه وي. د دغه دين د تاسيس پيغام لري او له دغه دين څخه د دفاع او په ځمکه کې يې د پلي کېدو لپاره هڅې کوي. يو څوک شته چې د الله سبحانه وتعالی د شريعت پلي کېدو لپاره هڅه کوي، څو الله سبحانه وتعالی هغوی ته پر ځمکه د واکمنېدو وس ورکړي.

دا هغه کسان دي چې ځانېژندنه نه کوي، د هر ګوابښ لپاره کلکه اراده لري او په کار کې ټنبلي نه مني. د هغوی صداقت الله سبحانه وتعالی ته معلوم دی.

ربښتيني رهبري مسوله وي او دا هغه کسان دي چې له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېږي.

في رواية عن أبي ذرّ قال: قلت يا رسول الله، ألا تستعملني؟ فضرب بيده على منكبي ثم قال: «**يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ، إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا، وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا**» **مسلم**

ژباړه: *ابوذر وویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې وغوښتل چې یې والي وټاکي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه پر اوږه لاس کېښود او ویلي فرمایل: ته کمزوری یې ابوذره! دا ډېر ستر امانت دی. د قیامت په ورځ به پښېمانۍ وي، خو هغه کسان به نه وي پښېمانه چې دغه مسولیت یې په ښه ډول ترسره کړی وي. په یو روایت کې هغه ته وایي: «اې ابوذره! وینم چې ته کمزوری یې او هغه څه چې د ځان لپاره یې غواړم، تاته یې هم هیله کوم. د دوو کسانو حکومت مه منئ او د یتیم مال مه خورئ.*

ربښتينې رهبري هغه ده چې هغوی پر خلکو د الله سبحانه وتعالی احکام پلي کړي، ځو په دې سره د هغوی ژوند روښانه کړي. په دې سره به د الله سبحانه وتعالی شریعت پلی، د خلکو اړتیاوې به پوره او عدالت به تامین شي. هغه به د خلکو امنیت ټینګ او ډلې ډلې به اسلام ته داخلې شي. ربښتينی رهبر هغه دی چې تر الهي قوانينو لاندې حاکمیت ولري او واکمنی وکړي او په همدغه نظر ورته وګوري. ځکه هغه د الله سبحانه وتعالی په ژمنه او د مومنانو پر بریا باور لري. ربښتينې رهبري هغه ده چې پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړي، لکه ابوبکر رضی الله عنه چې تر ټولو غوره شخصيت و او په هجرت کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای و.

**"فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّداً ﷺ فَإِنَّ مُحَمَّداً ﷺ قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لَا يمُوتُ"**

***ژباړه:*** *هر چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې عبادت وکړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او وفات شوی او هر چا چې د الله سبحانه وتعالی عبادت وکړ چې الله سبحانه وتعالی هېڅ نه مړ کېږي.*

هر چا چې د رسول الله صلی علیه وسلم غوندې عبادت وکړ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوس وفات شوی. خو که چا په یو پرېکنده اقدام کې د دولت وحدت وساته، ارتداد یې له منځه وړی دی.

ربښتینی رهبر هغه څوک دی چې خپل قوم ته دروغ ونه وایي، الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته صادق وي، شپه او ورځ د اسلام د عزت بیا راګرځېدو لپاره هڅه کوي او هغوی سره یوځای کړي. د الله سبحانه وتعالی په عادلانه احکامو سره رهبري کوي.

ربښتینې رهبري هغه ده چې له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پر ژمنه عمل وکړي، ځکه دا یو قانوني مسولیت دی چې باید ورته ژمن وي.

دا داسې رهبري ده چې هر وخت خپله ژمنه تازه کوي او ډاډ ورکوي چې د الله سبحانه وتعالی د قانون پلي کېدو لپاره به هڅه کوي او پر خلکو به د همدغه قانون په وسیله حکومت کوي. په دې سره به د اسلام عزت بیرته تر لاسه شي او دا به یوازنی حکومت وي چې بشر د ظالمانو له بشري قوانینو او حکومت څخه وژغوري.

هغه رهبري او حکومت چې یوازې د الله سبحانه وتعالی د حکم تر سیوري لاندې د ژوند کولو په اړه فکر کوي.

دا متحده رهبري د حزب التحریر په نوم په یو سیاسي حزب کې ده چې د اسلامي ژوند بیا راګرځېدو لپاره هڅه کوي. منصب نه غواړي او دنیوي عزت هم نه غواړي، بلکې له الله سبحانه وتعالی ډارېږي. ژمنه یې کړې چې د توحید بیرغ پر اسمان او ځمکه ورپول شي. ستره رهبري ده چې الله سبحانه وتعالی ته ژمنه ده او پر الله سبحانه وتعالی یې توکل کړی دی. د الله سبحانه وتعالی عبادت یې کړی، الله سبحانه وتعالی ژوند دی او هېڅ وخت به مړ نه شي.

**﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً﴾** [احزاب: ۲۳]

**ژباړه:** *د مومنانو په منځ کې داسې کسان شته چې له الله سبحانه وتعالی سره پر کړې ژمنه ولاړ دي، ځينو يې ژمنه وروستيو ته يوړه (يعنې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې يې د شهادت شربت وڅښل) ځينې نور يې په تمه دي. هېڅ وخت يې خپله ژمنه او تړون بدل نه کړل.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**ليکوال: زينا از سمت**

**۱۴۴۳هـ.ق د رمضان ۱۷مه**

**۲۰۲۲ م کال د اپرېل ۱۸مه**

